# ټکونه

ټاکو

## د بوسو لاندې اوبهٔ او شف شف

د صوفي جان اشنا مې هغه خلق ډېر بدي شي ځوک چې د بوسو لاندې اوبهٔ بوځي، يعنې صفا خبره نهٔ کوي، شف شف کوي او په شفتالو وئيلو يې ژبه نهٔ اوړي، صوفي جان وايي چې دا عادت اکثر په سياسي مشرانو کښې ډېر زيات دے.

زهٔ کهٔ هر څومره صوفي جان په دې خبره پوهوم چې ګوره اشنا دې ته سياست وايي او ياورته مصلحت وايي خو هغهٔ يې کله مني. هغه خو بس دغه وايي چې سياست صفا او رښې خبرې ته وايي، اکثر د باچاخان مثال پېش کوي، چې هغهٔ خو کله هم نهٔ شف شف کړے دے او نهٔ يې د بوسو لاندې اوبهٔ بوتلي دي، صفا خبره يې کړې ده، چې څهٔ يې په زړهٔ هم هغه يې په خولهٔ وو.

خبر د صوفي جان خبره هم صحيح ده، خو دا اوسني سياستدانان خو نهٔ د باچاخان په شان سياست کوي، نهٔ پرې پوهېږي او کهٔ پوهېږي پرې نو کول يې نهٔ غواړي، ځکه چې باچاخان خو د قام، ملت، وطن او د خلقو دپاره سياست کولو او سياست يې خدمت ګڼلو، زمونږ سياستدانان خو د ځان دپاره سياست کوي، کهٔ پوښتنه ترې وکړې چې صاحبه! صفا خبره وکړه، مطلب دې څهٔ دے نو جواب به درته درکړي چې ګوره! کله کله دمصلحت نه هم کار اخستل پکار دي، پته نشته چې دا مصلحت لا څهٔ ته وايي، زما په خيال مصلحت خو کمزورې، بزدلي او يا بيا بې غېرتۍ سره نيزدې نيزدې اصطلاح ده.

خو يوه خبره کوم چې د بوسو لاندې اوبهٔ صرف پوهه خلق بوځي او هغه پوهه خلق چې دزړهٔ خبره ښکاره نهٔ شي کولے، ځکه چې د زړهٔ خوښې او صفا خبره کښې دهٔ ته خپل نقصان ښکاري. د بوسو لاندې اوبهٔ هغه سياستدانان هم بوځي، ځوک چې وېرېږي يو خوا ورته پړانګ ښکاري او بل خوا ډانګ او لا هغه سياستدانان شف شف کوي، ځوک چې ځوک هم د ځان نه خفه کول نهٔ غواړي ټولې دريچې خلاصې

ساتلو کښې خپله فايده ګڼي.

دا د پارليمان متفقه فېصلې يا قرارداد ونه هم دغسې وي، يعنې د بده مرغه زمونږ ملي پارليمان هم د مصلحت د سياست نه ازاد نۀ دے، څۀ وکړي غريبانان يو خوا ډانګ دے بل خوا پړانګ. يعنې يو خوا اولس او قام دے او بل خوا ټوپک او بوټان، غريبانان په دوه درې کښې حېران او پرېشانه دي خو څه مړه څوک يې تپوس کوي؟ د خلقو مثال خو داسې دے لکه د ګډو بيزو چې ګډېږۀ او شپون يې په کوم طرف بيا يې ورسره به ځي، ګني بيا به خوري څۀ؟ نهر نهور به شپول ته راستانۀ کېږي.

يوازې پارليمان نۀ دے سياسي ګوندونه او سياسي مشران خو روزانه شف شف کوي، لکه يو سياستدان د خدائے په فضل نن سبا د پښتنو مشر جوړ شوے دے، د دۀ ملګري ځانونو ته قام پرست وايي، ښه خبره ده خدائے دې قام پرسته کړي، په قام مَين خلق زما هم ډېر خوښ وي او د صوفي جان اشنا مې هم خو د دې قام پرستو مشر صرف خپله قام پرستي د يو بل قام پرسته سياسي ګوند خلاف خبرو کولو پورې محدوده کړې ده، کله چې څۀ اهمه قامي او ملي مسئله راپېښه شي نو دے شف شف شروع کړي او صوفي جان وايي چې بيا يې اوبۀ د بوسو لاندې روانې کړې، ځکه چې د دې مشر دوه مسئلې دي يو خو نظرياتي توګه باندې د مسلم ليګ د نظريې نه ورته بهر وتل ګران دي او بله دا چې دا پته ورته نۀ لګي چې اوښ به په کوم طرف څملي، خو د غريب مجبوري دا ده چې ورسره ملګري قام پرستان دي، د دوي د جذباتو خيال ورته هم ساتل پکار دي، ګني بيا خو به يې پارټي ورانه ويجاړه شي، خدائے دې نۀ کړي چې داسې وشي.

زما خو دا دعا ده چې خدائے دې، دې قام پرستو ته دومره توفيق او طاقت ورکړي، چې د خپل مشر ملا مضبوطه کړي او په صحيح معنو کښې تر د پښتنو ملي قايد جوړ شي، ځکه چې دوي وايي چې د پښتنو مشري څۀ يوازې د يو سړي يا يو ګوند اجاره داري خو نۀ ده، بالکل دې خبره کښې ورسره زۀ هم ملګرے يم، پښتانۀ خو په سيند لاهو دي چې چا ورته لاس ورکړو نو بس د هغۀ احسان مند دي.

يو بل پښتون هم د اسلام په جامه کښې لګيا دے، شف شف کوي، دننه کوټه کښې يو څۀ وايي او بهر په انګڼ کښې بل څۀ، خدائے دې ورته نور عقل هم ورکړي، عقل مند سړے ترې بل نۀ وينم خو چې دا په بوسو کښې اوبۀ بوځي نو غصه مې ورته راشي، چې هلکه تاته څوک څۀ وايي، سمه خبره وکړه، لا يو طرف ته شه او لا بل طرف ته. دۀ ته خو زۀ خبردارے ورکوم، چې ګورې نۀ به د دين شې او نۀ د سادين، دا خلق اوس لګيا دي هوښيارېږي او بله دا چې بيا به درباندې څوک باور نۀ کوي، نۀ خپل او نۀ پردي، سم سړے وې، درونډ او عزتمند مشر وې، دا د ځانه دې څۀ جوړ کړي دي، مۀ وېرېږه، شف شف پرېږده، صفا ووايه چې شفتالو، څوک چې بوسو کښې اوبۀ بوځي نو اکثر پرې خپله وښوئېږي او ملا يې ماته شي، خدائے دې نۀ کړي چې زمونږ د سياستدانانو ملاګانې ماتې شي، ګني مېدان به هم هغو ته پاتې شي، څوک چې د باچاخان غوندې صفا او پاک پاکيزه سياست کوي، نۀ شف شف کوي او نۀ د بوسو لاندې اوبۀ بوځي.